د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده‌کړو وزارت

تفاهم‌نامه

همکاری علمی میان

پوهنتون پولی‌تخنیک کابل

و

پوهنتون اسلامی

بین‌المللی افغان

کابل پولي‌تخنیک پوهنتون او

افغان نړیوال اسلامي پوهنتون

ترمنځ

د ګډو علمی همکاریو

هوکړه‌لیک

کال: ۱۴۴۸ هق ۱۴۰۵ هش

مقدمه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی سیدنا محمد و آله و صحبه أجمعین.

و بعد : قال الله تبارك و تعالی ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾(المائدة۲)

در این آیت شریف، الله جلّ جلاله به بندگان خویش رهنمایی می کند که در کارهای نیک و پسندیده با یکدیگر همکاری و همیاری نمایند؛ زیرا امور و کارهای دنیوی بدون تعاون و همکاری میان مردم به سختی انجام می‌پذیرد.با توجه به اهمیت روز افزون گسترش همکاری های علمی، آموزشی و تحقیقاتی میان نهاد های تحصیلی در سطح ملی و بین المللی و به منظور ارتقاء سطح علمی، تبادل تجربه ها، تقویت ظرفیت های پوهنتونی و بستر سازی برای پروژه های علمی مشترک، تفاهم‌نامه حاضر میان پوهنتون پولی‌تخنیک کابل و پوهنتون اسلامی بین المللی افغان در چهارچوب مقررات امارت اسلامی افغانستان ، بر پایه اصول حسن نیت، احترام متقابل، منافع مشترک و رعایت کامل اصول نافذه وزارت محترم تحصیلات عالی و مقررات جاری کشور، منعقد می‌شود.

پوهنتون پولی‌تخنیک کابل یکی از مهم‌ترین مراکز تحصیلات عالی تخنیکی و انجنیری در افغانستان است که در سال 1342 هجری شمسی با همکاری علمی و تخنیکی اتحاد شوروی سابق تأسیس گردید. این پوهنتون در شهر کابل موقعیت داشته و شامل هشت پوهنځی است ساختمانی،جیولوژی و معادن،الکترومیخانیک، کمپیوترساینس،انجنیری صنایع کیمیاوی،انجنیری آب و محیط زیست، انجنیری جیوماتیک و انجنیری ساختمان‌های ترانسپورتی می‌باشد و هم‌چنان دارای(14) برنامه ماستری و یک برنامه دکتورا می‌باشد.

این نهاد علمی طی بیش از پنج دهه فعالیت، نقش محوری در تربیه کادرهای مسلکی و متخصص برای بازسازی و توسعه افغانستان ایفا نموده و از جایگاه برجسته در سطح ملی و منطقه برخوردار است.

سریزه

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی سیدنا محمد و آله و صحبه أجمعین.

وبعد : قال الله تبارك وتعالی ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّوَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾(المائدة۲)

په دې آیت شریف کې الله جل جلا له خپلو بنده ګانو ته دا ښيي چې په ښو او نېکو کارونو کې له یو بل سره همکاري وکړي. ځکه دنیوي کارونه د تعاون او همکارۍ څخه پرته سرته رسېدل ستوزمن دي. د علمي، تعلیمي او څېړنیزو همکاریو د ورځ تر بلې زیاتېدونکي اهمیت په پام کې نیولو سره، او د دې لپاره چې د پوهنتونونو علمي کچه لوړه شي، د تجربو تبادله وشي، ظرفیتونه پیاوړي شي، او د ګډو علمي پروژو زمینه برابره شي، دغه هوکړه لیک د کابل پولي‌تخنیک پوهنتون او د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون ترمنځ د افغانستان اسلامي امارت د نافذه اصولو په چوکاټ کې، د نیک نیت، متقابل احترام، ګډو ګټو او د هیواد د موجوده اصولو او مقرراتو د بشپړ رعایت پر اساس لاسلیک کیږي.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون د افغانستان یو له مهمو تخنیکي او انجنیري لوړو زده کړو مرکزونو څخه دی، چې په ۱۳۴۲ هجري لمریز کال کې د پخواني شوروي اتحاد د علمي او تخنیکي همکارۍ په مرسته جوړ شوی. دغه پوهنتون په کابل ښار کې موقعیت لري او په اته پوهنځیو: ساختماني، جیولوژي او کانونه، الکترومیخانیک، کمپیوټر ساینس، کیمیاوي صنایع انجنیري، د اوبو او چاپېریال انجنیري، جیوماتیک انجنیري، او د ترانسپورتي ودانیو انجنیري مشتمل دی. د دې ترڅنګ، دغه پوهنتون 14 د ماستري برنامې او یو د دوکتورا برنامه لري.

دغه علمي مرکز په تیرو پنځوسو کلونو کې د افغانستان د بیا رغونې او پرمختګ لپاره مسلکي او متخصص کادر روزلي او په ملي او سیمه‌یزه کچه یو مهم ځای لري.

پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان یگانه پوهنتون در افغانستان است که به‌طور اختصاصی به برنامه‌های فوق‌لیسانس اختصاص یافته است. هدف استراتژیک این پوهنتون، تربیت کادرهای متخصص و متعهد برای سکتورهای دولتی و خصوصی در عرصه‌های مختلف می‌باشد.

با در نظر داشت اهداف این پوهنتون، تأسیس این نهاد تحصیلی زمینه را فراهم ساخته است تا شماری زیادی از جوانان بتوانند در پرتو ارزش‌های اسلامی به تحصیل پرداخته و از ذخایر علمی جهان در عرصه‌های اقتصادی، طبی، زراعتی، زیربنایی و سایر بخش‌های مشابه کشور بهره‌مند شده و نقش مؤثری ایفا نمایند.

این پوهنتون در حال حاضر دارای پنج پوهنځی (شرعیات، انجینری، زراعت، کمپیوتر ساینس و طب) بوده و (۲۸) برنامه فوق‌لیسانس را در بر می‌گیرد که در راستای ارائه خدمات علمی و تحقیقی فعالیت دارند.

به‌منظور گسترش علم و دانش، تقویت تحقیقات و ارتقای ظرفیت‌ها، مطابق لوایح و مقررات وزارت تحصیلات عالی امارت اسلامی افغانستان، دو نهاد مهم علمی کشور؛ پوهنتون پولی‌تخنیک کابل و پوهنتون اسلامی بین المللی افغان، این تفاهم‌نامه را به‌منظور همکاری‌های متقابل و تبادل علمی به امضا می‌رسانند.

با در نظر داشت موارد فوق‌الذکر، پوهنتون پولي تخنیک مربوط وزارت تحصیلات عالی که از این پس در این سند به طور مختصر « پوهنتون پولي تخنیک » یاد می‌گردد، و همچنان پوهنتون اسلامی بین‌المللی افغان که از این پس در این سند به طور مختصر «پوهنتون بین‌المللی» نامیده می‌شود، و در مجموع به عنوان هر دو طرف یاد خواهند شد، در حالی که هر یک دارای تمامی حقوق و امتیازات قانونی و شرعی خویش می‌باشند، این تفاهم‌نامه را به امضاء می‌رسانند.

افغان نړیوال اسلامي پوهنتون په افغانستان کې یواځینی پوهنتون دی، چې فوق لیسانس برنامو ته ځانګړی شوی دی، د یاد پوهنتون ستراتیژیک هدف دامارتي او خصوصي سکتورونو لپاره په بېلابېلو برخو کې د متخصصو او ژمن کادرونو روزنه ده.

یاد پوهنتون اهدافو ته په کتو د دې تحصیلي نهاد په جوړېدو سره اوس ګڼ ځوانان کولای شي چې د اسلامي ارزښتونو په رعایت سره زده کړه ترلاسه او د نړۍ له علمي زېرمو څخه د هېواد په اقتصادي، طبي، زراعتي، زیربنا او داسې ورته نورو چارو کې ګټه پورته او په دې اړه مهم رول ولوبوي. دا پوهنتون اوس مهال په پنځه پوهنځیو (شرعیاتو، انجینري، کرنې، کمپیوتر ساینس او طب) کې (۲۸) فوق لیسانس برنامې لري، چې د علمي او څېړنیزو خدمتونو په وړاندې کولو بوختې دي.

د علم او پوهې پراختیا، د څېړنو پیاوړتیا او د ظرفیتونو د لوړاوي په موخه، د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د لایحو او مقرراتو له مخې، د هېواد دوه مهم علمي بنسټونه؛ کابل پولي تخنیک پوهنتون او افغان نړیوال اسلامی پوهنتون ، د متقابلې همکارۍ او علمي تبادلې لپاره دغه تفاهم‌نامه لاسلیکوي.

د پورته یادو شویو موادرو په پام کې نیولو سره د لوړوزده‌کړو وزارت اړوند د پولي تخنیک کابل پوهنتون، چې تر دې وروسته به په دې سند کې په لنډه توګه د پولي تخنیک پوهنتون او د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون، چې تر دې وروسته به په لنډه توګه د نړیوال پوهنتون په نوم او په ګډه توګه د دواړو لورو په نوم یادیږي، پداسې حال کې چې دوی خپل ټول حقوقي او شرعي ملکیتونه لري دا هوکړه‌لیک لاسلیک کوي.

فصل اول
عمومیات

ماده اول:

منظور از عقد تفاهم نامه

این تفاهم‌نامه به منظور بهره گیری بهینه از ظرفیت‌های علمی و تخصصی هر دو طرف، با رعایت ارزش‌های دینی و اسلامي، و در جهت تأمین نیروی انسانی متخصص و متعهد برای جامعه، به امضاء رسیده است. مطابق مفاد این تفاهم نامه، هر دو طرف متعهد می‌شوند که به‌طور مشترک در عرصه‌های علمی، تحقیقی و تحصیلی فعالیت نمایند، توانمندی‌های اعضای خود را ارتقا بخشند، و زمینه‌های لازم برای آموزش عملی و کاربردی دانشجویان را فراهم آورند.

ماده دوم:

اهداف

این تفاهم‌نامه جهت نیل به اهداف ذیل به امضاء میرسد:

۱- تقویت روابط و هماهنگی به‌منظور تبادل داشته هاي فنی و مهارت‌های تخصصی میان دو طرف.

۲ – بهره‌گیری از سمینارها، کنفرانس‌ها و کارگاه‌های آموزشی برگزار شده توسط هر دو طرف.

۳ – همکاری در ارتقای ظرفیت‌های علمی و حرفه‌ای کارکنان هر دو طرف.

۴ – همکاری در زمینه آموزش عملی، دوره‌های کارآموزی و ارائه مشاوره‌های روانی به محصلان.

۵ – به اشتراک‌گذاری اطلاعات مورد نیاز با محققان، مطابق با موضوعات تحقیقاتی.

۶ – انجام تحقیقات علمی مشترک و تبادل نتایج تحقیقات انجام شده میان دو طرف.

۷ – فراهم‌سازی زمینه انتشار مقالات علمی استادان در مجلات و نشریات علمی هر دو طرف.

۸ – بهره‌گیری از امکانات، کتابخانه‌ها و لابراتوار های هر دو طرف.

۹ – استفاده از ظرفیت‌های علمی و تخصصی اعضای هیئت علمی و محصلان هر دو طرف، مطابق با معیارها و شرایط تعیین شده.

۱۰ – همکاری در توسعه و تدوین برنامه‌های تحصیلی.

۱۱ – همکاری در تدوین اسناد قانونی و فنی.

لومړی فصل
عمومیات

دهوکړه‌لیک دعقد منظور

لومړی ماده

دا هوکړه‌لیک د دواړو لوریو د تخصصي او علمي ظرفیتونو څخه په اعظمي استفادې، دیني او ملي ارزښتونو ته ژمن متخصص انساني ځواک تولنې ته وړاندې کولو په موخه په ګډه توګه د علمي، څېړنیزو او ښوونیزو فعالیتونو د ترسره کولو، د دواړو لوریو د منسوبینو ظرفیت لوړولو او محصلینو ته د عملي زده‌کړو زمینه برابرولو په منظور لاسلیک شوی دی.

موخې

دویمه ماده

دا هوکړه لیک لاندې موخو ته د رسیدلو په پار لاسلیک شوی دی:

۱ – د دواړو لوریو ترمنځ د تخنیکي پوهې او مهارتونو د تبادلې لپاره د اړیکو پیاوړتیا او همغږي.

۲ – دواړو لوریو کې دائرېدونکو علمي سیمینارونو، کنفرانسونو او ښوونیز ورکشاپونو څخه استفاده کول.

۳ – د دواړو لوریو د منسوبینو د ظرفیتونو لوړولو کې همکاري کول.

۴ – محصلینو ته د عملي زده کړو، ستاژ او رواني مشورو ورکولو په برخه کې همکاري کول.

۵ـ د څېړنو عناوینو سره سم له څېړونکو سره د اړتیا وړ معلومات شریکول.

۶ – د ګډو علمي څېړنو تر سره کول او د تر سره شویو څېړنو پایلي یو له بل سره شریکول.

۷ــ د دواړو لوریو په علمي مجلو او ژورنالونو کې د استادانو د علمي مقالو د خپرولو زمینه برابرول.

۸ ــ د دواړو لوریو له امکاناتو، کتابتونونو، او لابراتوارونو څخه ګټه اخیستل.

۹ــ د معیارونو او شرایطو سره سم دواړو لوریو د علمي کادر غړو او محصلانو د علمي او تخصصي ظرفیتونو څخه ګټه اخیستل.

۱۰ــ تحصیلي نصاب په پراختیا او تدوین کې یو له بل سره همکاري کول.

۱۱ــ د تقنیني او تخنیکي سندونو په تدوین کې یو له بل سره همکاري کول.

ماده سوم

ساحات همکاری

1- طرفین از نظر این تفاهم‌نامه، در ساحات ذیل باهم همکاری می‌نمایند:

2- تبادل استادان به منظور تدریس، تحقیق و تبادل تجارب در سکتور انجنیری؛

3- برگزاری کنفرانس‌ها، سمینارها، ورکشاپ‌ها، کورس‌های کوتاه‌مدت و دوره‌های ارتقای ظرفیت علمی-تحقیقی؛

4- همکاری در زمینه تهیه، نشر و توزیع مجلات علمی، مقالات، کتب و منابع تعلیمي سکتور انجنیری؛

5- انجام پروژه‌های تحقیقاتی مشترک، استفاده از کادر های علمی و کارمندان برای تحقق پروژه‌های تحقیقاتی؛

6- استفاده از امکانات لابراتواری، کتاب‌خانه‌ها، مراکز تحقیقاتی و سایر امکانات علمی؛

7- مشوره‌دهی علمی و تخصصی طرفین در زمینه‌های ایجاد برنامه‌های علمی و به‌روزسازی نصاب درسی.

درېمه ماده

د همکارۍ ساحې

1. د دغه هوکړه لیک په چوکاټ کې، دواړو لوریو په لاندې ساحو کې همکاري کوي:
2. د تدریس، څېړنې او د انجنیرۍ سکتور د تجربو د تبادلې لپاره د استادانو تبادله؛
3. د علمي-څېړنیزو ظرفیتونو د لوړولو په پار د کنفرانسونو، سیمینارونو، ورکشاپونو، لنډ مهالو کورسونو دایرول؛
4. د انجنیرۍ برخه کې علمي مجلو، مقالو، کتابونو او تعلیمي منابعو چمتو کول، خپرول او وېشل؛
5. د تطبیق لپاره د بشري او تخنیکي منابعو استفاده د پروژو او د ګډو څېړنیزو پروژو ترسره کول؛
6. د لابراتوارونو، کتابتونونو، څېړنیزو مرکزونو او نورو علمي امکاناتو څخه استفاده؛
7. د علمي برنامو جوړولو او د نصاب د بیا کتنې په برخه کې علمي او تخصصي مشورې ورکول.

فصل دوم

توافقات مشترک و تعهدات طرفین

توافقات مشترک

ماده چهارم

برای اجرای بهتر و مؤثر مفاد این تفاهم‌نامه، هر دو طرف توافق می‌کنند که:

1. به منظور اجرای پروژه‌های علمی و تحقیقی خود، در صورت امکان و با مشورت یکدیگر، بدون مانع از کتابخانه‌ها، لابراتوار های تجهیزاتی و تحقیقاتی یکدیگر بهره‌برداری نمایند.
2. با معرفی منابع علمی و برگزاری کنفرانس‌ها، سمینارها، سمپوزیوم‌ها و کارگاه‌های آموزشی مشترک، تبادل داشته ها و تجربه را بیش از پیش گسترش دهند.
3. به منظور انجام تحقیقات علمی، زمینه دسترسی به آثار چاپ شده، کتاب‌ها و آرشیف های یکدیگر را مطابق با امکانات موجود فراهم آورند.
4. در ارتقای کیفیت رساله‌ها و آثار تحقیقی اعضای هیئت علمی خود با یکدیگر همکاری نمایند.
5. مجلات علمی و تحقیقی خود را برای بهره‌برداری مؤثر به صورت رایگان با یکدیگر مبادله کنند.
6. در ایجاد برنامه‌های علمی جدید و فرآیندهای ارتقای کیفیت آن‌ها همکاری دوجانبه داشته باشند.
7. زمینه مناسب برای انتشار مقالات تحقیقی اعضای هیئت علمی طرف مقابل در مجلات و ژورنال‌های علمی خود را فراهم آورند.
8. فرصت‌های مناسب برای ارتقای ظرفیت‌های اعضای هر دو طرف فراهم کنند.
9. در زمان انتصاب و ارتقای اعضای هیئت علمی، در صورت لزوم با یکدیگر همکاری نمایند.

دویم فصل

ګډې هوکړې او د لوریو ژمنې

ګډې هوکړې

څلورمه ماده

د دې هوکړه لیک د موادو د ښه او غوره تطبیق په پار دواړه لوري هوکړه کوي چې:

1. د خپلو علمي او څېړنیزو پروژو د پلي کولو په موخه، د امکان په صورت کې د یو بل له کتابتونونو، لابراتوارونو او څېړنیزو تجهیزاتو څخه پرته له خنډه د دواړو لوریو په مشوره ګټه واخلي.
2. د علمي سرچینو معرفي او د ګډو علمي کنفرانسونو، سیمینارونو، سمپوزیمونو او ورکشاپونو د تنظیم له لارې، د پوهې او تجربو تبادله نوره هم پراخوي.
3. د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه دواړه لوري د خپلو امکاناتو له مخې، د یو له بل چاپ شویو آثارو، کتابونو او آرشیفونو ته د لاسرسي زمینه برابروي.
4. د خپلو علمي کادرونو د څېړنیزو رسالو د غنامندی په موخه یو له بل سره همکاري وکړي.
5. دواړه لوري به خپلې علمي ـ څېړنیزې مجلې د مؤثرې ګټې په موخه په وړیا توګه یو له بل سره تبادله کړي.
6. دواړه لوري به د نویو علمي برنامو په ایجاد او د کیفیت لوړولو پروسو کې دوه اړخیزه همکاري وکړي.
7. دواړه لوري به د یو او بل د علمي کادر د غړو د څېړنیزو مقالو د خپراوي لپاره، په خپلو علمي مجلو او ژورنالونو کې مناسبه زمینه برابروي.
8. دواړه لوري به د یو او بل د منسوبینو لپاره د ظرفیت لوړونې مناسب فرصتونه برابروي.
9. دواړه لوري به د علمي کادر غړو د تقرر او ترفیعاتو په وخت کې د اړتیا پر مهال یو له بل سره همکاري وکړي.

ماده پنجم

همکاری‌های طرفین

الف – تعهدات پوهنتون پولي تخنیک:

بر اساس این تفاهم‌نامه، پوهنتون پولي‌تخنیک در برابر پوهنتون بین‌المللی ، تعهدات ذیل را عملی خواهد نمود:

1. پوهنتون پولي تخنیک، مطابق اصول علمی و اخلاقی، مقالات تحقیقی اعضای هیأت علمی و محصلان پوهنتون بین‌المللی را در نشریات معتبر خود منتشر خواهد ساخت.

2 . رهبری پوهنتون پولي تخنیک و اعضای هیأت علمی آن، در کنفرانس‌ها، سمینارها و کارگاه‌های علمی پوهنتون بین‌المللی حضور فعال خواهند داشت و سهم علمی و تحقیقی خود را به نحو احسن ارائه خواهند نمود.

3 . پوهنتون پولي تخنیک، تالارها و فضاهای لازم برای برگزاری کنفرانس‌ها و برنامه‌های علمی مختلف پوهنتون بین‌المللی را فراهم خواهد ساخت و در اختیار آن قرار خواهد داد.

4. پوهنتون پولي تخنیک، کتابخانه‌ها، آزمایشگاه‌ها، تالارها، اماکن ورزشی و تجهیزات تحقیقی خود را جهت تسهیل فعالیت‌های علمی، تحقیقی و ورزشی پوهنتون بین‌المللی در اختیار آن خواهد گذاشت.

5. پوهنتون پولي تخنیک در راستای غنی‌سازی و توسعه کتابخانه‌های فزیکی و دیجیتال پوهنتون بین‌المللی، در حدود امکانات و ظرفیت‌های خویش، مساعدت و همکاری خواهد نمود.

پنځمه ماده

د طرفینو همکاري

الف: د پولي تخنیک پوهنتون ژمنې:

د دې هوکړه لیک پر اساس به پولي تخنیک پوهنتون د نړیوال پوهنتون پرورړ اندې لاندې ژمنې عملي کوي:

1. پولي تخنیک پوهنتون به د اصولو مطابق د نړیوال پوهنتون د علمي کادر غړو او محصلینوڅېړنیزې مقالې په خپلو ژورنالونو کې خپروي.
2. د پولي تخنیک پوهنتون رهبري او علمي کادر غړي به د نړیوال پوهنتون په علمي غونډو لکه کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو کې فعاله حضور ولري او ونډه به اخلي.
3. پولي تخنیک پوهنتون به د نړیوال پوهنتون لپاره د کنفرانسونو تالارونه او د بېلابېلو علمي برنامو د تطبیق فضاوې په واک کې ورکوي.
4. پولي تخنیک پوهنتون به خپل کتابتونونه، لابراتوارونه، تالارونه، سپورتي لوبغالي او څېړنیز تجهیزات د نړیوال پوهنتون د علمي، څېړنیزو او سپورتي فعالیتونو لپاره په واک کې ورکړي.
5. پولي تخنیک پوهنتون به د نړیوال پوهنتون د فزیکي او الکترونیکي کتابتون د بډاي کولو او پراختیا په برخه کې، د خپلو امکاناتو په حدودو کې مرسته وکړي.

ب: تعهدات پوهنتون بین‌المللی

بر اساس این تفاهم نامه، پوهنتون بین‌المللی متعهد می‌گردد تا در راستای تقویت و توسعه علمی پوهنتون پولي تخنیک، تعهدات زیر را به نحو احسن و با رعایت اصول علمی و اخلاقی به اجرا گذارد:

1. پوهنتون بین‌المللی، در هدایت، راهنمایی و تقریظ مقالات علمی اعضای هیأت علمی پوهنتون پولي تخنیک همکاری صمیمانه و مستمر خواهد داشت.
2. پوهنتون بین‌المللی، در به‌روز رسانی و مدرن سازی برنامه‌های تحصیلی پوهنتون پولي تخنیک با توجه به شرایط موجود و نیازهای علمی، مشاوره فنی و همکاری کارشناسانه ارائه خواهد کرد.
3. پوهنتون بین‌المللی، به منظور غنا و توسعه کتابخانه‌های فزیکی و دیجیتال پوهنتون پولي تخنیک ، امکانات و ظرفیت‌های خویش را تا حد امکان در اختیار آن قرار خواهد داد.
4. پوهنتون بین‌المللی، تالارها و فضاهای لازم برای برگزاری کنفرانس‌ها و اجرای برنامه‌های علمی مختلف پوهنتون پولي تخنیک را فراهم و در اختیار آن قرار خواهد داد.
5. پوهنتون بین‌المللی متعهد است تا در ارتقای ظرفیت علمی اعضای هیأت علمی، کارکنان و محصلان پوهنتون پولي تخنیک همکاری مستمر و موثر نماید.
6. رهبری و اعضای هیأت علمی پوهنتون بین‌المللی، در کنفرانس‌ها، سمینارها و کارگاه‌های علمی پوهنتون پولي تخنیک حضور فعال داشته و سهم علمی و تحقیقی خود را به نحو احسن ارائه خواهند نمود.

ب: د نړیوال پوهنتون ژمنې:

1. نړیوال پوهنتون بـه د پولي تخنیـک پوهنتونعلمي کـادر غړو د علمي رسالو په لارښوونه او تقریظ ورکولو کې همکاري کوي.
2. نړیوال پوهنتون به د پولي تخنیک پوهنتوند تحصیلي نصاب د عصري کولو په برخه کې، د شرایطو او علمي اړتیاوو په پام کې نیولو سره، تخنیکي مشورې او همکاري وکړي.
3. نړیوال پوهنتون به د پولي تخنیک پوهنتوند فزیکي او الکترونیکي کتابتون د غنا او پراختیا لپاره، د خپلو امکاناتو تر حده زمینه برابروي.
4. نړیوال پوهنتون به د پولي تخنیک پوهنتونبلابېلو علمي برنامو د تطبیق په موخه د کنفرانسونو تالارونه او د بېلابېلو علمي برنامو د تطبیق فضاوې په واک کې ورکړي.
5. نړیوال پوهنتون ژمن دی، چې د پولي تخنیک پوهنتوند علمي کادر غړي، کارکوونکو او محصلینو د ظرفیت لوړونې په برخه کې همکاري وکړي.
6. د نړیوال پوهنتون رهبري او علمي کادر غړي به پولي تخنیک پوهنتونپه علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو کې فعاله ونده اخلي.

فصل سوم

موارد متفرقه

ماده ششم

مسائل مالی

تطبیق فعالیت‌های مندرج در این تفاهم‌نامه از جانب هر دو طرف، هیچ‌گونه مسئولیت مالی را بر هیچ‌یک از طرفین تحمیل نمی‌نماید. در صورتی که برخی از فعالیت‌ها دارای بُعد مالی باشد، جنبه‌های مالی و شیوه‌های تأمین آن توسط کمیته مشترک نظارتی تنظیم گردیده و پس از تأیید مقامات ذی‌صلاح هر دو طرف، زمینه اجرایی آن فراهم می‌گردد.

ماده هفتم

حل اختلافات

هرگونه اختلافی که در جریان اجرای مواد این تفاهم‌نامه به میان آید، توسط کمیته مرکزی مشترک نظارت حل و فصل می‌گردد و نیازی به مراجعه به جانب ثالث نخواهد بود. در صورتی که اختلاف حل نگردد، هر دو طرف می‌توانند به تعدیل جزئی یا کلی و بازنگری در مفاد این تفاهم‌نامه متوسل شوند.

ماده هشتم

تغیر، اصلاح و بازنگری

1. طرفین می‌توانند بر اساس ضرورت بازنگری، اصلاح یا تغییرات جزئی و کلی در این تفاهم‌نامه، پیشنهادهای خویش را به‌صورت کتبی به طرف مقابل ارائه نمایند.

2. هرگونه بازنگری، اصلاح و تغییری که مورد توافق هر دو طرف قرار گیرد، جزء لاینفک این تفاهم‌نامه محسوب می‌گردد.

3. هر نوع بازنگری، اصلاح و تغییر زمانی قابل اجرا خواهد بود که مورد توافق کمیته مشترک نظارت و نمایندگان صلاحیت‌دار هر دو طرف قرار گرفته باشد.

4. هرگونه بازنگری، اصلاح و تغییری که در جریان اجرای مواد این تفاهم‌نامه از سوی هر دو طرف پیشنهاد و تأیید گردد، مبنای حقوقی و تعهداتی را که بر اساس این سند امضا شده است، متأثر نخواهد ساخت.

دریم فصل

متفرقه موارد

شپږمه ماده

مالي مسایل

په دې هوکړه لیک کې د راغلیو فعالیتونو تطبیق له دواړو لوریو څخه؛ یو ته هم مالي مسؤلیت نه را منځته کوي. هغه چارې چې مالي اړخ ولري، مالي اړخ او د چمتو کولو لارې چارې یې د څار دګډې کمېټې لخوا ترتیب او د دواړو لوریو د با صلاحیته چارواکو تر تائید وروسته ورته لار سازي کیږي.

اوومه ماده

د شخړو حل

هر هغه شخړه (اختلاف) چې د دې هوکړه‌لیک د مادو د پلي کولو په جریان کې را منځته کیږي، د څارنې د مرکزي ګډې کمېټې له خوا حل کیږي او دریم اړخ ته د مراجعې اړتیا نشته، که چیرې شخړه حل نشي، دواړه لوري کولی شي په هوکړه‌لیک کې جزئي یا بشپړ بدلونونه او بیا کتنې ته مخه کړي.

اتمه ماده

بدلون، سمون او بیا کتنه

۱. دواړه لوري کولی شي دغه هوکړه لیک د بیا کتنې، سمون، جزئي یا ټولیز بدلون پر اساس خپلې غوښتنې په لیکل شوې بڼه مقابل لوري ته وړاندې کړي.

2. هغه بیا کتنه، سمون او بدلون چې دواړه لوریو وړباندې توافق وکړي، د هوکړه لیک برخه حسابیږي.

3. هر ډول بیا کتنه، سمون او بدلون هغه وخت د تر سره کېدو وړ دی، چې د څار د ګډې کمېټې او د دواړو لوریو د صلاحیت لرونکو استازو لخوا وړباندې د نظر یووالی را منځته شوی وي.

4. هر ډول بیا کتنه، سمون او بدلون چې د دغه هوکړه لیک د موادو د پلي کېدو په لړ کې د دواړو لوریو لخوا وړاندیز او تائید شي، حقوقي مبنی او هغه ژمنې چې د دغه سند پر اساس لاسلیک شوي دي، نه اغیزمنوي.

ماده نهم

زبان، مدت، تمدید و فسخ

این موافقت‌نامه در دو زبان رسمی کشور (دری و پشتو) ترتیب گردیده و پس از امضا توسط نمایندگان باصلاحیت هر دو طرف، برای مدت پنج (۵) سال دارای اعتبار و قابل اعتماد می‌باشد.

پس از سپری‌شدن پنج (۵) سال، در صورتی‌که از سوی یکی از طرفین درخواست فسخ ارائه نگردد، این موافقت‌نامه به‌طور خودکار برای پنی سال دیگر تمدید محسوب می‌شود. هرگاهی یکی از طرفین خواهان فسخ موافقت‌نامه باشد، مکلف است درخواست خود را حداقل سه ماه قبل به‌صورت تحریری به جانب مقابل ارائه نماید؛ و فعالیت‌های ناتمام تابع فسخ این موافقت‌نامه نمی‌باشند.

ماده دهم

قابل تطبیق

این موافقت‌نامه در ده ماده ترتیب و تنظیم گردیده و پس از امضا و ابلاغ آن از جانب نمایندگان باصلاحیت طرفین، لازم‌الاجرا بوده و مفاد آن قابل تطبیق می‌باشد.

نهمه ماده

ژبه، موده، تمدید او فسخ

دا هوکړه‌لیک د هېواد په رسمي دوه ژبو (دری او پښتو)کې ترتیب شوی دی او دواړو لوريو د صلاحیت لرونکو استازو تر لاسلیک وروسته د پنځو(۵) کلونو له پاره د اعتبار او باور ور دی.

دا هوکړه‌لیک تر پنځو (۵) کلونو وروسته ،که د یو لوري د فسخې غوښتنه شوې نه وي، د پنځو نورو کلونو لپاره په خپله تمدید حسابیږي او هغه لوری چې د هوکړه‌لیک د فسخې غوښتونکی وي، باید درې میاشتې وړاندې خپله غوښتنه په تحریري ډول مقابل لوري ته وړاندې کړي او نابشپړ فعالیتونه د هوکړه‌لیک د فسخې تابع نه دي.

لسمه ماده

د اجراء وړ کرځیدل

دا هوکړه‌لیک په(لسو) مادو کې ترتیب او د دواړو لوریو د صلاحیت لرونکو استازو تر لاسلیک او ابلاغ وروسته د اجراء وړ دی.

رئیس پوهنتون پولی‌تخنیک کابل

نام: مولوی محمد موسی فاروق

آدرس : کارته مامورین، ناحیه پنجم کابل - افغانستان

شماره رسمی ارتباطی اداره: 0202526381

ایمیل آدرس: chancellor@kpu.edu.af

امضاء :

تاریخ : / / مطابق / /

دافغان نړیوال اسلامی پوهنتون رئیس

نوم: پوهندوی دوکتوررفیع الله " عطاء"

پته: دارالامان سرک ، ملي موزیم ته مخامخ ، کابل - افغانستان

د اداري د اړیکو رسمي شمېره : 20252648

ایمیل آدرس:info@aiiu.edu.af

لاسلیک:

نېټه ۷/ ۴/ ۱۴۰۶ مطابق / /